PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

# DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۸۸۱

لسم کال - دویمه دوره، ۸۸۱ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۴۸ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د تلې ۷ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د شوال المکرم ۲۰ مه ۲۰۱۰ د سپتمبر ۲۹ مه

## پترائوس و پیش شرط مذاکرات آشتی با طالبان افغانستان

**قوماندان نیروی های ناتو در افغانستان، پذیرش قانون و دستور العمل دیکته شده از سوی امریکا و خلع سلاح کامل طالبان را پیش شرط مذاکرات آشتی با این گروه اعلام کرد.** سایت خبری انتی وار در این مورد نوشت، دیوید پترائوس گفت، شماری از رهبران ارشد طالبان در روزهای اخیر احتمال انجام مذاکرات آشتی با حامد کرزی، رییس جمهوری افغانستان را پیشنهاد و مطرح کردند، اما پذیرش قانون ص۳

# د سولې د عالي شورا نومولړ اعلان شو



بلاخره تر ډېر غور او څېړنې وروسته ولسمشر کرزي د سولې د عالي شورا نومولړ اعلان کړ. په دې نومولړ کې، چې ۶۸ نومونه په کې شامل دي، له پخوانیو جهادي رهبرانو، طالب مشرانو، قومي مشرانو او یوشمېر دولتي چارواکو جوړ دی.

صبغت الله مجددي، برهان الدین رباني، پیر سید احمد گیلاني، ایت الله شیخ محمد اصف محسني، استاد عبدالرب رسول سیاف، حاجي محمد محقق، د پوهنې وزیر ډاکټر محمد فاروق وردګ، د اوبو او برېښنا سرپرست وزیر محمد اسماعیل خان او د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال ددغه نومولړ مشهورې څېړې دي. دغه راز په دې نومولړ کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال د لوړو زدکړو مرستیال مولوی ارسلا رحماني، د امر بالمعرف او نهې عن المنکر وزیر مولوي قلم الدین او د پلان وزارت مرستیال حاجي موسی هوتک او یو شمېر نورو چارواکو نومونه هم شامل دي. د ولسمشر حامد کرزی ویاند وحید عمر وویل، چې په دې نومولړ کې د ۸ مېرمنو نومونه هم شامل دي او په نړۍ راتلونکي کې به د ولسمشر له خوا د یوې بلې مېرمنې او نارینه نومونه هم ورزیات شي. همدارنګه د سرچینې د څرګندونو له مخې، لکه څنګه چې یاده شورا په هېواد کې د سولې ټینګښت په موخه د ملي مصالحې او پخلاینې لپاره جوړه شوې ده، د خبرواترو له لارې به خپل فعالیتونه پرمخ یوسي.

عمر وویل چې د حکومت پالیسي داده، چې هر وسلوال مخالف وسله کېږدي او اساسي قانون ومني او سوله ییز ژوند ته مخه وکړي. هغه زیاته کړه چې د نوې شورا دنده داده ترڅو دغه هدف ته درسېدو لپاره کار وکړي.

وحید عمر د یوې پوښتنې په ځواب کې چې په دې نومولړ کې د داسې کسانو نومونه شته، چې د طالبانو پرمهال عملاً له هغوی سره په جګړه بوخت وو، دغه کسان به طالبان سولې ته رامات کړي؟ وویل: ((د افغانستان اوسني حالات لس کاله مخکې حالات نه دي، لس کاله مخکې حالات بل ډول وو، اوس ټول خلک سوله غواړي او د دې شورا غړي له ډېر دقت او فکر څخه وروسته ټاکل شوي، چې هر یو یې ځانته اهمیت لري.))

د پژواک د راپور له مخې، نومورې په دې شورا کې د دولتي چارواکو ۳مخ

## نامزدان جدید پیشتاز انتخابات پارلمانی افغانستان

**اعلام نتایج قسمی انتخابات در ده ولایت افغانستان نشان می دهد که نامزدان جدید نسبت به نامزدانی که قبلاً نیزنماینده بوده اند، پیشتازهستند.**

مسوولان می گویند، با شمارش آرای تمام حوزه ها در نتایج نهایی تغییراتی به میان خواهد آمد.

نتایج قسمی این ده ولایت نشان می دهد که از ۳۷ کرسی این ده ولایت ۲۳ کرسی آن را نامزدان جدید و ۱۴ کرسی دیگر آن را وکلای دور اول که این بار نیز، نامزد بودند، به دست آورده اند.

این نتایج قسمی مربوط به ولایت های پنجشیر، کاپیسا، پروان، بامیان، دایکندی، وردک، لغمان، کنر، سرپل، فراه و نیمروز می باشد که در سایت کمیسیون مستقل انتخابات تا هنوز نشر شده است. کمیسیون مستقل انتخابات روز دوشنبه نتایج قسمی هفت ولایت را در سایت انترنتی اش به نشر رساند، اما مسوولان کمیسیون انتخابات می گویند، اعلام احتمالا تغییراتی در نتایج نهایی به وجود خواهد آمد.

**امکان بازنده شدن برنده گان:**

فضل احمد معنوی، رییس کمیسیون مستقل انتخابات در این مورد گفت: "اعلان نتایج قسمی، برنده و بازنده را مشخص کرده نمی تواند، چون در برخی از ولایات ده تا ۳۰ درصد شاید محلاتی شمار شود که یکی از کاندیدان رای بلند داشته باشد، اما بعد وقتی که مراکز دیگری وارد سیستم می شود، امکان دارد، رای کسی که قبلاً بسیار بالا بوده پایین بیاید و رای کس دیگری بالا برود."

مسوولان کمیسیون انتخابات می گویند، تنها آرایی وارد سیستم شمارش آرا می شود که هیچ گونه شکایتی در مورد آنها وجود نداشته باشد.

بر بنیاد نتایج اولیه در ولایت های فراه و نیمروز، افراد جدید برنده شده و هیچ یک از وکلای دورۀ اول که دوباره نامزد بودند، راه نیافته اند.

اما در ولایت پنجشیر که تنها دو کرسی ص۳

## د کندهار د عملیاتو له امله د زرګونو کډوالو له ناورینه ډک ژوند



د کندهار ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د روانو عملیاتو او جګړو له امله تر ۱۰۰۰ زیاتې کورنۍ کندهار ښار ته کډوالې شوې دي. په دغه ولایت کې له تېرو څو میاشتو راهیسې د همکارۍ د تدابیري پلان له مخې، عملیات دوام لري، چې د کندهار ښار او ارغنداب ولسوالۍ تر څنګ یې اوس لمن ژېړې او پنجوایي ولسوالیو ته هم غځېدلې ده. له یادو شویو ولسوالیو څخه کندهار ښار ته راکډه شوي خلک وایي، چې خپل باغونه او کورونه یې پرې ایښي او دا مهال په کندهار ښار کې له ستونزو ډک ژوند تېروي.

دغه راز د ګڼ شمېر بې ځایه شویو کورنیو غړي د تلې پر ۶مه د کندهار د کډوالو چارو ریاست مخې ته راغونډ شوي وو او د مرستو غوښتنه یې کوله.

له دې ډلې څخه د ارغنداب ولسوالۍ د لویې منارې یوه اوسېدونکي حاجي حزب الله پژواک خبري اژانس ته وویل، چې د طالبانو او دولتي ځواکونو تر منځ د جګړو له امله یې په ولسوالۍ کې ژوند سخت و. د نومورې په وینا، له تېرې یوې میاشتې راهیسې په کندهار ښار کې د خپلوانو په کور کې په ډېر کړاو ژوند کوي.

## د غزني مرستیال والي ووژل شو

د غزني د والي مرستیال محمد کاظم الله یار پرون سهار په داسې حال کې په یوه ځانمرګي بریدکې ووژل شو، چې له خپل کور څخه د دفتر پر لور روان و. دغه پېښه د کابل ـ کندهار پر لویه لاره د غزني ښار د ځلورمې امنیتي حوزې په سیمه کې رامنځته شوه.

د غزني د والي ویاند اسماعیل جهانګیر وایي، چې له مرستیال والي سره په موټر کې سپاره د ده زوی، وراره، یو تن ساتونکی او موټر چلوونکی یې ووژل شول.

هغه وویل چې دغه راز په چاودنه کې یو ملکي وګړی وژل شوی او د الله یار د دوو تنو ساتونکو په ګډون اته ملکي وګړي ټپیان شوي دي. د غزني ۳مخ

یو شمېر کاندیدان:

## شکایتونو ته باید په پوره توګه رسېدنه وشي

### کمېسیون باید په دې برخه کې په اغېزناکه او رنړه توګه عمل وکړي

دولسي جرګې په تېرو ټولټاکنو کې له ننګرهار، خوست او کندوز ولایتونو او د کوچیانو یو شمېر کاندیدانو د ټاکنیزو شکایتونو له کمېسیون څخه وغوښتل، چې باید شویو شکایتونو ته پوره رسېدنه وشي. د یادشویو ولایتونو کاندیدانو دغه څرګندونې د تلې پر ۶مه، په کابل ښار کې له خبریالانو سره د خبرو پر مهال وکړې او زیاته یې کړه چې دوی مخکې له مخکې د ټاکنیزو شکایتونو د څېړلو کمېسیون ته په ټاکنوکې د درغلیو په اړه شکایتونه ورکړي دي. د افغانستان د قومونو د پیوستون شورا رییس او ولسي جرګې ټه له خوست ولایت څخه خپلواک کاندید غازي نواز تنې وویل چې په ټول خوست کې زر حقیقي رایې هم نه دي اچول شوي. خو هغه زیاته کړه چې اوس یوازې د خاځي میدان په ولسوالۍ کې ۱۸۰۰۰ رایې حساب شوې دي، چې ټولې یې جعلي دي. د تنې په وینا، خوست چې یوه سنتي ټولنه ده یوه ښځه هم د رایې اچونې مرکزونو ته نه ده تللې، خو اوس په هر مرکز کې تر نارینه وود ښځو رایې زیاتې دي.



## تحصیلي بورسونه د اړیکو او سوداګرۍ قرباني!

۲

# تحصيلي بورسونه د اړيکو او سوداګرۍ قرباني!

فهيم مينه ناک



په افغانستان کې له څو پرلپسې کلونو را په دې خوا د تحصيلي بورسونو په وېش کې سخته بې عدالتي شوې او دا بې عدالتي اوس هم روانه ده. تحصيلي بورسونه عموماً بايد د اړتيا او وړتيا دواړو په پام کې نيولو سره ورکړل شي او همداشان ټولنيز انډول او عدالت هم په کې په پام کې ونيول شي، خو له بده مرغه په افغانستان کې په دې برخه کې داسې يوه ساري ناروغي خوره ده، چې له منځه وړل يې اساسي او دقيقې درملنې ته اړتيا لري. بايد ووايو، په افغانستان کې د ښاغلي کرزي د حکومت تر رامنځته کېدو وروسته ډېرى بهرنيو هېوادونو دې ته زړه ښه کړ، چې افغانستان ته تحصيلي بورسونه برابر او ولېږي. که څه هم پخوانيو حکومتونو ته دا ډول بورسونه وركول کېدل، خو د کرزي د حکومت پر مهال دا بورسونه ډېر شول او د امريکا، کاناډا، ترکيې، جاپان، روسيې، چک، جرمني، فرانسې، انګلستان، کوريا او هندوستان په ګډون ډېرى هېوادونو دا ډول بورسونو د وركولو لړۍ پيل کړه او افغان محصلانو ته يې بورسونه راولېږل. خو په تأسف سره بايد ووايو، چې دا بورسونه نږدې نوي سلنه دقومپالنې، ګوندپالنې، سياست او زرواکۍ او سوداګرۍ قرباني شول. دا ټولو ته څرګنده ده، چې افغانستان ته زښت زيات بورسونه راغلل او لا هم راځي، خو تر اوسه پورې د دې بورسونو نه سمه پوښتنه شوې او نه هم وړ او مستحقو کسانو ته ورکړل شوي، بلکې د دغو بورسونو شاوخوا نوي سلنه هغو کسانو ته ورکړل شي او يا ورکول کېږي، چې هغوى يا قوي واسطې او اړيکې لري او يا هم په دولت کې لويې سټې دي. تاسې وګورئ اکثره هغه کسان چې په بورسونو باندې ځي، هېڅ لياقت نه لري، خو واسطه او اړيکې يې ښې وي، نو پر همدې بنسټ د بورس مستحق ګرځي. همدا اوس اوس کوم کسان چې په بورسونو باندې ځي، يا د دولتي چارواکو زامن، خپلوان او نږدې کسان وي او يا هم داسې کسان وي، چې زر او پيسې لري او له همدې لارو د بورس وړ بلل کېږي. دا سمه ده، چې دولت د بورسونو د وېش لپاره يوه کړنلاره لري، يا نې ازموينه اخلي او ازادې سيالۍ ته يې وړاندې کوي. خو دا هسې يوه نمايشي پروسه او کړنلاره او د خلکو د غلولو او فريب ورکولو لپاره يې په کار اچولې او په دې توګه خلکو ته دا ښيي، چې ګني مور عدالت او وړتيا په پام کې نيسو، خو کيسه داسې نه ده، بلکې د پردې ترشا بيا کيسه بل ډول روانه ده. د بېلګې په توګه که يو هېواد افغانستان ته بورسونه لېږي، نو دلته هغه بورسونه ازادې سيالۍ ته وړاندې کېږي، په ازاده سيالۍ کې ګڼ کسان برخه اخلي، خو کله چې د بورس لپاره د بريالیو کسانو نومونه راوځي، هماغه کسان بيا د واسطو او اړيکو والاوو او همداشان له زرواکانو سره اړه لري، يا نې د بورس لپاره د کس انتخاب بيا هم د پردې شاته پر سياسي، ژبنيو او قومي ستنو ولاړ وي. د دې خبرې د ثبوت لپاره تر ټولو غوره او پر ځای خبره داده، چې ولسمشر کرزی يو بې پرې او باصلاحيته پلاوي وټاکي، داسې يو پلاوى، چې يوازې د خدای لپاره ووايي، نه د بل او بل لپاره او په دې توګه ټول هغه بورسونه وځېږي، کوم چې د ده د واکمنۍ له لومړيو نه تر ننه پورې وېشل شوي او هغه کسان دې هم ټول په ګوته کړي، چې په چا او چا پورې اړه لري، له کوم قوم او کومې ژبې سره اړه لري، څومره وړتيا لري او د کومې وړتيا پر اساس ورکړل شوي دي؟ نو په دې توګه به ولسمشر کرزي ته دا

## اطلاع رسانی و عرصهٔ تنگ رسانه یی افغانستان

خپلواک - کابل

یکی از مشکلات اساسی افغانستان، عدم پوشش اطلاع رسانی شفاف و واقعیت گرا از رویدادهای و واقعات روز این کشور است. در افغانستان رسانه های زیادی فعالیت دارند؛ هم رسانه های چاپی وجود دارد، هم تصویری و هم صوتی، ولی با این وجود، ژورنالیزم زرد، ژورنالیزمی که نمی تواند، رویدادها و قایع روزمره را طور شاید و باید بازتاب دهند، بر فضای رسانه یی این کشور حکم می راند. وقتی که رویدادی رخ می دهد، تا زمانی که ژورنالست به کنه رویداد می رسد، موی سرش سفید می شود؛ اظهارنظر متضاد مقام های مسوول، ارایهٔ ارقام و آمارهای مختلف در مورد حادثه چیزی است که یک ژورنالست نمی تواند واقعیت های موجود در مورد رویدا را دریابد و به اطلاع عامه برساند؛ حتا در بسا موارد، واقعیت های عینی را سخنگویان ناتو و دولت نمی پذیرند و رویداد را به گونهٔ عکس جلوه می دهند؛ سیاه را سفید و سفید را سیاه می نامند. درست روز شنبهٔ گذشته، دفتر مطبوعاتی نیروهای خارجی در کابل دربیانیه‌یی اعلام کرد که نیروهای ناتو درعملیات مشترک با سربازان افغان در ولایت لغمان، ۳۰ شورشی مسلح طالبان را کشتند. دفتر مطبوعاتی ناتو در حالی ادعای کشته شدن ۳۰ طالب مسلح را طی این رویداد مطرح کردند که گل رحمان همدرد سخنگوی ولایت لغمان آمار کشته شده گان طالبان مسلح را در این حمله، سه تن اعلان کرد.

ولی ساعاتی از این رویداد سپری نشده بود که صدها تن از ساکنان محل با شعارهای "مرگ بر امریکا" و "مرگ بر نیروهای خارجی" دست به تظاهرات زدند و خواهان محاکمهٔ عاملان کشتار غیرنظامیان شدند.

به هر حال، آنچه در بالا از آن ذکر رفت، به عنوان مشت نمونهٔ خروار بود. روز گذشته، به منظور تحقیق در مورد این رویداد، رییس جمهور کرزی هیاتی را به این ولایت اعزام کرد. هرچند تعیین هیات حقیقت یاب و بررسی از چنین رویدادهایی تا کنون هیچ دردی را نکرده و هیچ گونه نتایج مثمری به دنبال نداشته است، روز گذشته، دفتر مطبوعاتی ریاست جمهوری با انتشار اطلاعیه‌یی از فرستادن یک هیات حقیقت‌یاب در مورد کشتار غیر نظامیان در ولایت لغمان خبر داد. در این اطلاعیه همچنان آمده است که گزارش‌های ابتدایی رسیده از محل حادثه، حاکی از آن است که در میان کشته شده گان غیرنظامیان نیز به چشم می خورند. اکنون قضاوت را به شما خواننده گان محترم می گذاریم، که آنان چطور می توانند، واقعیت این رویداد را دریابند، آنان نظر کدام سخنگو و یا مقام را بپذیرند.

## سرمقاله

## د سولې عالي شورا، د سولې پر وړاندې يوه بله ننګونه!

سوله او امن د هرې بشري ټولنې تر ټولو لومړۍ او ستره اړتيا ده. که چېرې په کومه ټولنه او يا کوم هېواد کې سوله نه وي، نو روزګار يې لکه د افغانستان په ځېر وي، چې د پرمختګ ځرک په کې نه لګېږي، نه په کې اقتصادي، فرهنګي غوړېدا شته او نه هم ځوک کولای شي، د خپل سر او مال د خوندیتابه د تضمين په اړه ډاډه شي. کله چې د سړي سر په امن نه وي، نو طبيعي ده، چې د هغه ټوله هڅه به دا وي، چې د خپل سر او مال تحفظ او ساتنه به ځرنګه کوي، له هغه سره نور دا سوچ او فکر نه پيدا کېږي، چې د ولس او ټولنې څه حال دی او نه ورته دا شيان ارزښت لري. په هر حال، خبره به ډېر نه اوږدوو، د سولې په ارزښت ټول پوهېږي، ان اوس د افغانستان غرونو، ځنګلونو او سيندونو هم د سولې او امن ارزښت او قدر درک کړی، دا خو لا پرېږده، چې انسانان ورته د شک او تردید په سترګه وګوري. په تېرو پنځه دېرشو کلونو کې که څه هم افغانان د سولې ارمانجن وو او په دې اوږده موده کې د دوی تر ټولو ستره هيله او ارزو همدا وه، چې په خپل هېواد کې د سولې په فضا د سوکالۍ ژوند وکړي، خو ډېر په تاسف سره بايد ووايو، چې د دومرو اوږدو کلونو په تېرېدو او له اوږدو هڅو او مندو تړو سره سره، افغانان لا تراوسه خپل دغه ارمان ته نه دي رسېدلي. اوس هم افغانان هره ورځ وژل کېږي، ټپيان کېږي، بې کوره کېږي او له راز راز مصيبتونو او رنځونو سره مخامخ کېږي، دا ټولې بدمرغۍ په هېواد کې د سولې د نشتون زېرنده دي. دا چې دغه تلپاتې بدمرغۍ ولې د افغانانو په برخه ده، ولې افغانان د کلونو کلونو لپاره په اور او بارو تو کې لولپه کېږي، د دې لاملونه هم ټولو ته ښکاره دي، پر دې موضوع ډېر بحثونه شوى، سپين او سپېځلي، تور او کرغېړن اوس ټولو ته څرګند شوى. هغه څه چې دلته د يادولو وړ دي، هغه دا دي، چې دولت او نړيواله ټولنه د يوې مسوولې غاړې په توګه، په دې برخه کې څه کړي. دولت په تېرو نهو کلونو کې، کله چې د افغانستان په جغرافيه او قضايا وو کې د نړيوالې ټولنې پښه وردننه شوې، تراوسه داسې يو ګام، چې هغه واقعاً صادقانه او موثر وي، په دې برخه کې نه دی پورته کړی. د دولت ټولې هڅې په دې لاره کې تر عمليتوب زيات نمايشي او سمبولیک اړخ لري. دا رنګ کوښښونه او کړنلارې، نه يوازې په هېواد کې د سولې د ټينګښت لامل نه ګرځي، بلکې هېواد نور هم د کړکېچونو په لومو کې وردننه کوي. د امن د سيمه ييزې جرګې، د کابل د سولې جرګې، ورپسې د کابل د کنفرانس او دا دی د سولې د عالي شورا د رامنځ ته کېدو جريان او څرنګوالي چې تېره وړځ يې د غړو نومونه هم په رسمي توګه اعلان شول، ټول زموږ پر دې خبره ګواه دي. دغه ټول جريانونه که سړی په ژوره توګه وځېړي، نو ځرګندېږي، چې که څه هم د دغو ټولو جريانونو، محوري ټکی په هېواد کې د سولې او امن ټينګښت دی، خو په واقعيت کې، داسې مديريت او پلان شوى، چې هېڅکله به هم د افغانانو دغه لارورکی کاروان سالم مسير ته ونه رسوي، د دغو جرګو مديريت او مشرتابه د داسې کسانو په لاس کې و او دی، چې هغوى له (وسلوالو مخالفينو) سره چې دمګړۍ په هېواد کې مخالف لورى ګڼل کېږي او دغه ټولې هڅې د هغوى د پخلاکېدو په موخه ترسره کېږي، تاريخي دوښمني لري، او کلونه کلونه د يو بل غوښې ته وړي ناست او سرونه يې سره جنګولي. دا ټولو ته ښکاره ده، چې دغو ارګ مېشتې کړۍ، چې د ولسمشر د ليدلورو او تګلارو په بدلولو کې، کره او ځرګندې اغېزې هم لري، په هېڅ صورت کې نه شي، کولی د افغانانو دغه تر ټولو ستره ملي پروسه، چې ملي پخلاينه او د سولې ټينګښت دي، سرته ورسوي، ځکه دوی په خپله د سولې او امن په لاره کې خنډ دي، په تېرو نهو کلونو کې همدغو ډلو ټپلو او کړيو تل هڅې کړي، چې په هېواد کې د سياسي ثبات او ملي پخلاينې مخه ونيسي، ځکه دوی خپله ګټه د افغانستان په بې ثباتۍ او ګډوډۍ کې ويني. په دې اړه، ډېر دليلونه او کره شواهد شته، چې په دغو کړيو پورې اړوند کسان، چې کله د ولسمشر له خوا په سوېلي سيمو کې حاکمان ټاکل کېدل، نو په قصدي توګه يې هڅه کوله، چې خلک د دولت پر ضد راوپاروي، خلک وځوروي، په بېلابېلو نومونو يې بنديان کړي او و يې وژني، چې بلاخره د همدغو ناروا هڅو په لړ کې د هېواد وضعيت تر دې دمه ورسېد، چې اوس نه يوازې د مرکزي او باثباته دولت رامنځ ته کېدل يې، ناشوني کړي، بلکې له املې يې په هېواد کې د سولې او امن ټينګښت هيله هم ګمرنګه کړې. پر دې بنسټ، ويلای شو، د سولې عالي شورا په دغه ترکيب او تشکيل او مديريت کې، د سولې په موخه د تېرو ناکامو هڅو په څېر به نه يوازې پر دې و نه توانېږي، چې د افغانستان له خاورې د دوښمنۍ او ورور وژنې تېغر ټول کړي او د ثبات او امن لامل وګرځي، بلکې له دې سره به مخالفين نور هم جنګ جګړو ته مخه کړي او وضعيت به نور هم کړکېچن شي.

## ټول اسلامي عالم ته...

_ امریکا په ۱۰۰۰۰۰۰ کې ۱۰۰۰ تکنیشنیان لري.

_ اسلامي نړۍ د ځپړنو په پرمختګ د خپل GDP (غیر خالص کورني تولید) ۱,۲% لګوي.

_ عیسویان د خپل ۵%-GPD د ځپړنو په پرمختګ لګوي.

* د اسلامي نړۍ د پوهې د تولید یا جوړولو ظرفیت ټیټ دي او دا یې ځینې نورې نښې دي:

_ په پاکستان کې د ۱۰۰۰ کسانو لپاره ۲۳ ورځپاڼې خپرېږي.

_ په سنګاپور کې د ۱۰۰۰ کسانو لپاره ۴۶۰ روځپاڼې خپرېږي.

_ په مصر کې د یو میلیون کسانو لپاره ۱۷ کتابونه خپرېږي.

_ په انګلستان کې د یو ملیون کسانو لپاره ۲۰۰۰ کتابونه خپرېږي.

_ د پاکستان په صادراتو کې د High Tech تولیداتو ونډه ۰,۹%، په سعودي عربستان کې ۰,۲%، په کویټ او الجزایر کې ۰,۳% (او په افغانستان کې ۰%) ده.

_ دا سلواله په سینګاپور کې ۶۸% ده.

بر ښلیک په پای کې لیکي چې د خدای لپاره په خپله او بچیان مو زده کړه وکړئ. په دې مسله هېڅ دیالوګ ته اړتیا نشته. مور مسلمانان د نړۍ غټ اکثریت جوړوو، د دې لپاره چې خپله ښه ونډه په ځای کړو باید خپله پوهه، خلاقیت او د زده کړې پرله پسې لېوالتیا پیاوړې کړو. مور بله لار نه لرو!

که خبره له عالم اسلام څخه افغانستان ته راوګرځو، دلته وضع نوره هم بې خونده ده. تر اوسه زمور د هېواد ډېر نارینه او ډېرې زیاتې ښځې بېسواده دي او که سواد هم لري، نو ډېر معلومات نه لري، یو رقم (پېتاوي) اسلام ته ژمن دي، د خپل هېواد د تاریخ او جغرافیې په هکله په څه نه پوهېږي، د هېواد د روانو حالاتو په جړپو او بنسټونو سم نه دي خبر او له همدې امله ژر ژر غولېږي او تر اوسه یې څو ځلې خپل هېواد په خپل لاس وران کړی دی.

په افغانستان کې لا ښوونځي، پوهنتونه او ځپړنیزې موسسې په داسې یوه سطحه کې دي چې د دنیا په پرتله ډېره ټیټه بلل کېږي او هېڅ داسې څه نه لرو چې په نړۍ کې پرې وویاړو، خو نا میدې نه ده په کار. هر کار یو پیل غواړي، یو همت غواړي، پاک نیت غواړي او کلکه اراده غواړي، که مور دا نیت، اراده او همت سره یو ځای کړو او د پرمختګ جنډه پورته کړو، هرومرو د بریالیتوب پراو ته رسو او یو وخت به د علومو، فنونو او هنرونو په ډګرونو کې داسې وتلې ځپړې او کارنامې ولرو، چې زمور بچیان او لمسیان پرې وویاړي او د نړۍ د پرمختګ په ستر کاروان کې به مو خپل وړ ځای موندلی وي.

## تحصیلي بورسونه د اړیکو...

په ډاګه شي، چې څومره بورسونه وړ او څومره ناوړ کسانو ته ورکړل شوي دي. زه دا نه وایم، چې چارواکي او زرواکي او یا د هغوی خپلوان او زامن د دې حق نه لري، چې بورس ورته ورکړل شي، بلکې بورسونه تر ټولو د مخه د اړتیا، وړتیا او ټولنیز عدالت د اصل بر بنسټ باید ووېشل شي، نه داسې چې هغه د چا خبره (میم زور ما، ټول زما). که مور د بورسونو د ځپړنې لپاره پورتنۍ لاره، یانې د باصلاحیه او بې پرې پلاوي د څار او ځپړنې لار غوره کړو او بیا رښتینو پایلو ته وګورو، نو دا به ټولو ته په ډاګه شي، چې په تحصیلي بورسونو کې څومره پراخې درغلۍ شوي او څومره بورسونه د اړیکو، قوم، ژبې او پیسو پر بنسټ ورکړل شوي دي. د دغو بورسونو په اړه داسې ناتایید شوي راپورونه هم شته، چې په دولت کې یوه وړوکي اقلیت قوم ته نژدې اویا سلنه بورسونه ورکړل شوي او دا خبره هلته حقیقت پیدا کولای شي، چې کله د بورسونو په اړه دقیقه او پر ځای ځپړنه وشي.

په هر صورت دا هغه ستونزې دي، چې د اندېښنې وړ دي او د دې ستونزو اساسي حل ته د یوې سمې او پر ځای لارې غوره کول اړینه او ضروري خبره ده. ولسمشر کرزي هم په دې وروستیو کې امر کړی، چې په بورسونو کې د درغلیو او ناعادلانه وېش په موخه دې دې نوی میکانیزم جوړ شي.

ښاغلي کرزي دوشنبې پر ورځ، د دغو بورسونو د ناعدلانه وېش له امله، چې د واسطو، اړیکو، زور او پیسو خاوندان په کې تر هر چا مخکې وو، د بورسونو د پروسیجر د بیاارزونې او د دې چارې لپاره د یوه نوي میکانیزم د جوړولو امر کړی دی. ښاغلي کرزي د خپلې کابینې د بهرنیو چارو، پوهنې او اقتصاد وزیرانو او د لوړو زدکړو سرپرست وزیر ته ویلي، چې د بهرنیو بورسونو لپاره پر شرایطو د بر ابرو کسانو د معرفي کولو لپاره دې دقیق او رون میکانیزم جوړ کړي. د رسنیو په حواله، د نړۍ په شاوخوا ۲۷ پوهنتونونو کې شاوخوا ۵۰۰۰ افغان محصلان پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ۲۰۰۰ پر خپل لګښت او څه کم ۳۰۰۰ د دولت په لګښت تللي دي. دا مهال په ځینو بهرنیو بورسونو کې د هر ولایت ونډه معلومه وي، چې څومره کسان یې باید ولاړ شي، خو ځینو نورو ته بیا ښخي دازادو سیالیو له لارې خلک غوره کېږي، چې کله نا کله خو د ورکړل شویو بوروسونو سم نیمایي له یوه ولایت څخه پوره شي. د دغو بوروسونو شرایط توپیر لري، ځینې هېوادونه افغان محصلانو ته پخپل هېواد کې یوازې ځای ورکوي او نور لګښتونه یې باید محصلان پخپله وکړي، خو ځینې نور یې بیا هر څه پر خپله غاړه اخلي. په دې توګه ولسمشر باید لومړی تر هر څه مخکې هغه بورسونه وځپړي، کوم چې محصلانو ته ورکړل شوي او د هغو تر دقیق ځپړلو وروسته دې د مکانیزم لپاره داسې کسان غوره کړي، چې هغوی د ټولیز عدالت ساتونکي وي، ملي یووالي او ملي ګټو ته ژمن وي او په رښتینې توګه د دغه خوار او ذلیل ملت ستونزو او هیلو ته په سمه توګه رسېدنه وکړای شي. داسې کسان غوره نه کړي، چې په تېر یا ماضي کې په دې برخه کې تورن او درغلي کوونکي وي او نه هم داسې کسان چې هغوی په خپله په لوی لاس ټولنیز عدالت له منځه وړي او یو ارخیزه پرېکړه کوي.

## د غزني مرستیال والي...

امنیه قوماندان سمونوال زړور زاهد وویل چې دغه پېښه د یوه ځانمرګي برید له امله، چې برید کوونکی پر موټر سایکل سپور و رامنځته شوې ده. نومورې د پېښې په اړه د زیاتو معلوماتو له ورکړې ډډه وکړه، خو دومره یې ووېل چې د مرستیال والي په ګډون شپږ تنه وژل شوي او اته تنه ټپیان دي. محمد کاظم الله یار د غزني د جغتو ولسوالۍ د تورګن د سیمې اوسېدونکی و، چې د جهاد پر مهال د ایت الله محسني د تنظیم حرکت اسلامي قوماندان و. جهانګیر وایي، چې الله یار تر یوه کال زیاته موده د قره باغ ولسوال او له هغه وروسته تر پنځو کلونو زیاته موده کېږي، چې د ولایت د مرستیال په توګه یې دنده تر سره کوله. په سیمه کې عیني شاهدان دغه پېښه د ماښام چاودنه بولي.

د عبدالحي په نامه یو تن، چې د چاودنې سیمې ته نژدې هټۍ لري وایي، چې لومړی یې د اور یوه لمبه ترسترګو او وروسته زوروره چاودنه رامنځ ته شوه.

## پترائوس و پیش شرط...

**مورد نظر و تدوین امریکا از سوی طالبان و خلع سلاح کامل شده اعضای این گروه، شرط انجام این گفتگوهاست و تنها از این طریق می‌توان به مقاومت طالبان پایان داد.**

**انتی وار افزود، با وجود گذشت ۹سال از حملهٔ امریکا به افغانستان برای مبارزه با تروریزم، طالبان همچنان در افغانستان فعال است و حتا در صورت تمایل برخی رهبران این گروه به شرکت در گفتگوهای آشتی، احتمال تسلیم کامل آنها بسیار بعید است. افزایش روزافزون شمار نیروهای سازمان پیمان ناتو و تمایل امریکا به طرح هرگونه سازش با طالبان به عنوان پیروزی، از دلایل فاصله گرفتن طالبان از مذاکرات و چانه زنی‌های سیاسی در افغانستان است.**

## د سولې د عالي شورا...

شتون په اړه، چې آیا دا به د دې څرګندوی نه وي چې دا شورا هم دولتي ده؟ وویل چې د سولې عالي شورا لپاره ډېر قومي مشران تاکل شوي، چې په بشپړه توګه د خلکو استازیتوب کوي او په شورا کې د دولتي چارواکو شتون هېڅ کله هم د دې مانا نه لري، چې شورا به حکومتي وي.

**د سولې د عالي شورا بشپړ نوملړ:**

۱- حضرت صبغت الله مجددي
۲- پروفیسور برهان الدین رباني
۳- پیر سید احمد ګیلاني
۴- ایت الله شیخ محمد اصف محسني
۵- پروفیسور استاد عبدالرب رسول سیاف
۶- استاد حاجي محمد محقق
۷- سید نورالله سادات
۸- سید منصور نادري
۹- حاجي سلیمان یاري
۱۰- محمد اسماعیل خان
۱۱- ډاکټر فاروق وردګ
۱۲- پوهاند نعمت الله شهراني
۱۳- ارسلا رحماني
۱۴- مولوي پیرمحمد روحاني
۱۵- حاجي محمد نعیم کوچی
۱۶- حاجي دین محمد
۱۷- ملا تاج محمد مجاهد
۱۸- مولوي محمدشاه عادل
۱۹- حاجي فضل کریم ایماق
۲۰- مولوي قیام الدین کشاف
۲۱- مولوي محي الدین بلوچ
۲۲- مولوي شفیع الله
۲۳- عارف خان نورزی
۲۴- څارنوال محمود دقیق
۲۵- عطاولله خان لودین
۲۶- وکیل انورخان اسحق زی
۲۷- حسن تخاري
۲۸- مولوي عبدالحکیم مجاهد
۲۹- اسدالله وفا
۳۰- مولوي خدایداد
۳۱- قاضي محمد امین وقاد
۳۲- حبیب الله فوزي
۳۳- استاد محمد اکبري
۳۴- عبدالهادي ارغندیوال
۳۵- مولوي شهزاده شاهد
۳۶- محمد اسماعیل قاسمیار
۳۷- امیرمحمد اغا
۳۸- فقیر محمد خان
۳۹- محمد یوسف واعظي
۴۰- عبدالغني خان توخي
۴۱- سناتور شیرمحمد اخوندزاده
۴۲- حاجي امان الله اتمانزی
۴۳- رییس عبدالواحد باغراني
۴۴- خلیفه قزل ایاق
۴۵- مولوي قلم الدین
۴۶- انجنیر ابراهیم سپین زاده
۴۷- حاجي موسی خان هوتک
۴۸- مولوي سالک زاده
۴۹- ساره سرخابي
۵۰- جمیله حمیدي
۵۱- حوا علم نورستاني
۵۲- ناجیه زیوري
۵۳- صدیقه بلخي
۵۴- ګلهار جلال
۵۵- ډاکټر ګلالی نور ساپی
۵۶- قمر خوستی
۵۷- عبدالحمید مبارز
۵۸- صدیق احمد عثماني
۵۹- مودودي
۶۰- امین الدین مظفري
۶۱- سید محمد امین طارق
۶۲- وکیل بازمحمد خان زرمتی
۶۳- عبدالخالق حسیني
۶۴- حاجي محمد داوود زاهدیار
۶۵- محمد هاشم فولاد
۶۶- مولوي جوره
۶۷- حاجي شیرین خان نورزی
۶۸- حاجي فضل کریم فضل

## نامزدان جدید پیشتاز...

**در ولسی جرګه دارد دو نامزدانی که در دورهٔ قبلی نیز نماینده بودند، پیشتاز اند.**

**در ولایت پروان نیز وکلای قبلی آرای بیشتر را به دست آورده و تنها دو نامزد جدید در جمع آنان شامل است.**

**در ولایت پنجشیر ظهیر سعادت که پس از استعفای صالح محمد ریگستانی وکیل بود و قاضی راحله سلیم دیگر وکیل پشین آن ولایت دو نامزدی هستند که بیشترین آراء را به دست آورده اند.**

**در ولایت بامیان محمد اکبری و فکوری بهشتی دو وکیل پیشین این ولایت این بار نیز بیشترین آراء را به دست آورده، اما نادر فهیمی و فاطمه کاظمیان دو نامزد جدید است که در جمع وکلای پیشتاز جای دارند.**

**در ولایت میدان وردک غلام حسین ناصری، حاجی وحیدالله کلیمزی، استاد ذهاب و حمیده اکبری نامزدان جدیدی هستند که این بار بیشترین آراء را به دست آورده اند، احمد حسین سنگردوست و صدیقه مبارز نیز، از وکلای دورهٔ قبل هستند که در این دور نیز، برنده شده اند.**

**در ولایت دایکندی که چهار کرسی دارد و یک کرسی آن به زنان اختصاص یافته، محمد نور اکبری و صادقی زاده نیلی دو وکیل پیشین این ولایت در صدر قرار دارند، اسدالله سعادتی و کبرا مروجی چهره های جدیدی هستند که در انتخابات ۲۷ سنبله به ولسی جرګه راه یافته اند.**

**در ولایت سرپل الحاج محمدرحیم، سیدحسین شریفی و عزیزه جلیس چهره های جدیدی هستند که جای وکلای پیشین را پر کرده اند، حاجی خیرمحمد ایماق و محمدحسین فهیمی از جمله وکلای دور اول اند که در این انتخابات نیز کامیاب شده اند.**

**بر اساس نتایج قسمی ولایت فراه، هیچ وکیل دور اول موفق به راه یافتن به ولسی جرګه نشده؛ در حالی که مسعود بختور، عبدالولی حمید، عبدالصبور خدمت، عبدالغفار وطندار و حمیرا ایوبی نامزدانی جدیدی هستند که بیشترین آراء را کسب کرده اند. در ولایت نیمروز نیز، دو وکیل پیشین این ولایت موفق به گرفتن آرای کافی برای راه یافتن به مجلس نشده اند، در حالی که میراحمد بلوچ و فریده امینی نامزدان جدیدی هستند که موفق به کسب بیشتر آراء شده و به پارلمان راه خواهند یافت.**

**تقلب گسترده:**

**کمیسیون شکایات انتخاباتی می گوید، تاکنون ۲۵۰۰ شکایت را در یافت کرده که ۱۹۰۰ شکایت آن جدی است و می تواند، نتایج انتخابات در شماری از مراکز رای دهی را تغییر دهد.**

**استفاده از زور برای پرکردن صندوق ها، رای دادن چندین بار یک فرد و انتقال صندوق ها و اوراق رای دهی و پرکردن آنها از موارد جدی تقلبات در روز انتخابات خوانده می شود.**

**مسوولان کمیسیون شکایات انتخاباتی هنوز مشخص نکرده اند که بررسی و رسیده گی به شکایات چه مدت را در بر می گیرد.**

**فضل احمدمعنوی، رییس کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان، روز یکشنبه در یک کنفرانس خبری گفت: این کمیسیون تصمیم دارد، تا آرای شماری از مراکز و محلات در ولایت های لوگر، خوست، بدخشان، تخار، کندز، پروان و بلخ به دلیل مشکوک بودن آراء دوباره بشمارد.**

**معنوی گفت: آرای شماری از این مراکز بازشماری، شماری دیگر تفتیش و شماری هم تفتیش و بازشماری خواهند شد.**

**ورود هزاران نامزد به کابل:**

**پس از برگزاری انتخابات پارلمانی شمار زیادی از نامزدان انتخابات پارلمانی از ولایت ها به کابل آمدند و از طریق اشتراک در میزگردهای رسانه یی در کابل، از تقلب ها و تخطی های گسترده در روز انتخابات شکایت کردند.**

**اما کمیسیون انتخابات می گوید، راه انداختن سروصداها و سرازیر شدن کاندیدان به کابل هیچ چیزی را تغییر نمی دهد؛ زیرا با آمدن آنها نه رای شان کم می شود و نه زیاد.**

**معنوی به تمام نامزدان اطمینان داد که کمیسیون انتخابات در جریان شمارش آراء هیچ تقلبی را اجازه نمی دهد. اوگفت: "تکرار می کنم، اگر اتفاق بدی در مرکز نتایج ما می افتد، ما هیچ توجیهی نداریم و مشخصاً کمیسیون باید مسوولیت را بپذیرد. به این دلیل توجه جدی وجود دارد، تا آرای پاک از ناپاک جدا شود و آرای واقعی مردم وارد سیستم شود."**

**به گزارش شبکهٔ دویچه وله، معنوی همچنان گفت: شکایات از ۶۲۰ مرکز در روز انتخابات به کمیسیون مستقل انتخابات رسیده که شامل بی نظمی ها، تقلب ها و تخلف ها می گردد و معلوماتی را که این کمیسیون در دست دارد، با معلومات دیگر نهادهای ناظر تقریباً یکسان می باشد.**

# ټول اسلامي عالم ته یو درونده پیغور!

احسان الله آرینزی



په دې وروستیو ورځو کې ښاغلي اسدالله مشفق صیب یو بر ښلیک را استولی و. مشفق صیب په رښتیا هم مشفق دی او تل ډېر په زړه پورې بر ښلیکونه، له خپلو دوستانو سره شریکوي.

د بر ښلیک سرلیک دی: پوهه دانسان په ژوند کې تر ټولو مهم شی.

داسې ښکاري سکومه محاسبه چې په دې بر ښلیک کې شوې، هغه دافغان بېسیم مخابراتي شرکت د تدارکاتو مشر ښاغلي محمد طاهر رسولي کړې او رسولي صیب دا مورد د جنوبي افریقا د البرکه بانک د مشر (ډایرکټر جنرال) ښاغلي حافظ اې، ب، محمد له کومې وینا څخه را اخستې ده.

خدای (ج) دې ټولو ته خیر ورکړي. حافظ محمد ته د داسې عالمانه وینا لپاره، محمد طاهر رسولي ته د دې لپاره چې له هغه (احتمالاً) اوږدې وینا څخه یې داسې ګټور مواد را اخیستي او اسد الله مشفق صیب ته چې دا ګټور مواد یې له مورې سره شریک کړل.

بر ښلیک وایي چې ارقام په خپله په چیغو خبرې کوي او مورې ته ښایي چې غوږونه ورته ونیسو او ځانونه پرې پوه کړو. د بر ښلیک په قول په نړۍ کې یو نیم میلیارد مسلمانان (یو ملیارد په اسیا او منځنۍ ختیځ کې، ۴۰۰ ملیونه په افریقا کې، ۴۴ ملیونه په اروپا او ۶ ملیونه په امریکا کې) او ۱۴ ملیونه یهودان (۷ ملیونه په امریکا، ۵ ملیونه په اسیا، ۲ ملیونه په اروپا او ۱۰۰ زره په افریقا کې) اوسېږي. نور خلک هم شته چې په یو ډول به یاد شي.

په هغه وینا کې چې حافظ محمد په جنوبي افریقا کې کړې، راغلي چې په نړۍ کې د هر هندو لپاره (۱,۲)، د هر بودایي لپاره (۱,۲) او د هر یهود لپاره (۱۰۷) مسلمانان شته. په بله ژبه د نړۍ هر پنځم اوسېدونکی مسلمان دی، خو همدا یو نیم میلیارد مسلمانان له هاغه ۱۴ ملیونه یهودانو څخه کمزوري دي. ولې؟ دا موضوع به د ارقامو په ژبه توضیح کړو چې د یهودانو د (زور) او د مسلمانانو د (کمزورۍ) پر اصلي ستونزه ښه پوه شو:

*د اوسنۍ نړۍ تر ټولو ستر عالمان یهودان دي:

۱_ البرت انشتین
۲_ ریګموند فروید
۳_ کارل مارکس
۴_ پاول سامولسن
۵_ ملتون فردمن.

*د طب په برخه کې د هر نومیالي مخترعان یهودان دي:

۱_ بنیامن روبن د واکسیناسیون ستنې،
۲_ یوناس سالک د ګوزن (پولیو) واکسین،
۳_ ګرترود الیون، Leukaemia Drug
۴_ باروخ بلومبرګ، تور زیړي، Hepatitis B
۵_ پاول ارلینخ، Syphilis Drug
۶_ الي متچنکوف، Neuro Musclar
۷_ اندریو شالي Endocrinology
۸_ هارون بک، Cognitive
۹_ ګریګوري پنکوس Contraceptive pill،
۱۰_ جي. وال Understanding of Human eye
۱۱_ ستانلی کوهن، Embryology
۱۲_ ویلیام کولفکام. Embryology

*په تېرو ۱۰۵ کلونو کې ۱۴ ملیونه یهودانو د نوبل ۱۸۰ جایزې ګټلې دي، خو ۱,۵ بیلیون مسلمانانو یوازې ۳ !!!؟

*لاندې یهودانو داسې شیان اختراع کړي چې تاریخ ته یې بدلون ورکړی دی:

_ ستانلی نیزوز Microprocessing Chip
_ لیو سزلند Neclear Chain Reactor
_ پیتر شولتز نوري کېبل Optical Fiber Cable
_ چارلس ادلر Traffic Light
_ بینو ستراوس Stainless Steel
_ اسادور کیسې غز لرونکي سینما Sound Movies
_ ایمایل برلینر د تلفون Microhpone
_ چارلزک VideoTape Recorder



*د نړۍ ستره سوداګري د یهودو په لاس کې ده:

فلیپ لاورین، د Polo خاوند
_ لیوی ستراوس، د Levi's & Jeans خاوند
_ هوارد شولتز، د Sarbuck's خاوند
_ سرجي برین، د Google خاوند
_ میخاییل دل، د Dell Computers خاوند
_ لاري ایلسون، د Oracle خاوند
_ دونا کارین، د OKNY خاوند
_ اورا رابینز، د Backin and Donots خاوند.

*د نړۍ دا نومیالي سیاستوال یهودان دي:

_ هنري کسینجر، د امریکا د متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو پخوانی وزیر
_ ریچارد لیوین، د Yale پوهنتون مشر
_ الن ګرین سپان، د US د فدرال زېرمې Fedreral Reserve مشر
_ مادلین البرایت، د امریکې د بهرنیو چارو وزیره
_ کسپر واینبر ګر، د امریکې د دفاع وزیر
_ ماکسین لتوینوف، د روسیې د بهرنیو چارو وزیر
_ دیوید مارشال، د سینګاپور لومړی وزیر
_ اساکس اساکس، د استرالیا ګورنر جنرال
_ بنیامن دیزرایلي، د انګلستان دولتي مشر
_ یفګني پریماکوف، د روسیې لومړی وزیر
_ باری ګولد واتر، د امریکې سیاست پوه
_ جورج سامپیو، د پرتګال ولسمشر
_ هرب ګري، د کانادا د لومړي وزیر مرستیال
_ پیري مندس، د فرانسې لومړی وزیر
_ میخائیل هووارد، د انګلستان د کورنیو چارو وزیر
_ برونو کرسکي، د استرالیا چانسلر
_ رابرت روبین، د امریکې د خزانې وزیر

*د نړۍ د استرې رسنۍ د یهودانو دي:

_ ولف بلتزر، CNN
_ باربارا والترز، ABC NEWS
_ امګني مېیر، واشګټن پوست
_ هنري ګرونوالد، د تایم مجله
_ کاترین ګراهام، واشګټن پوست
_ جوزف لیلد، نیویارک ټایمز
_ ماکسي فرانکل، نیویارک ټایمز

*په مسلمانانو کې د پوهې د جوړولو او خورولو روحیه او ظرفیت ډېر ټیټ دی. دا ظرفیت له بده مرغه په افغانستان کې نور هم ټیټ او صفر ته نژدې دی. وګورئ په ۵۷ اسلامي هېوادونو کې یوازې ۵۰۰ پوهنتونونه شته (په دې کې به د بامیانو، کندوز، پکتیا، تخار، بغلان، جوزجان، کاپیسا، بدخشان او فراه پوهنتونونه حساب نه وي چې سویه یې د بکلوریا له دورې سره هم برابره نه ده!)

په داسې حال کې چې:

_ امریکا ۵۷۵۸ پوهنتونونه لري.
_ هندوستان ۸۴۰۷ پوهنتونونه لري.
_ د اسلامي هېوادونو یو پوهنتون هم د نړۍ په ۵۰۰ سترو، تاریخي او نامتو پوهنتونونو کې نه راځي.
_ ۹۰ % عیسویان سواد لري.
_ ۴۰ % مسلمانان سواد لري.
_ ۱۵ داسې هېوادونه چې ډېر خلک یې عیسویان دي ۱۰۰ % سواد لري.
_ هېڅ داسې هېواد چې ډېر خلک یې مسلمانان دي ۱۰۰ % سواد نه لري
_ د عیسوي هېوادونو ۹۸% خلک لومړنۍ زده کړې لري.
_ د اسلامي هېوادونو ۵۰% خلک لومړنۍ زده کړې لري.
۴۰% عیسویان لوړې زده کړې (د پوهنتون سویه) لري.
_ ۲% مسلمانان لوړې زده کړې (د پوهنتون سویه) لري.
_ مسلمانان په ۱۰۰۰۰۰۰ کې ۲۳۰ ساینس پوهان لري.
_ امریکا په ۱۰۰۰۰۰۰ کې ۵۰۰۰ ساینس پوهان لري.
عرب په ۱۰۰۰۰۰۰ کې ۵۰ تکنیشنیان لري.

۳ مخ


## کنوانسیون حقوق اطفال

**نهه ویشتمه ماده: د ماشوم د ښوونې او روزنې هدف باید د ماشوم د شخصیت او وړتیاوو، وده وي.**

**مادهٔ بیست و نهم: هدف از تعلیم و تربیه اطفال باید رشد شخصیت و توانایی طفل باشد، اطفال باید بتوانند یک زندگی فعال را در اجتماع آزاد یاد بگیرند.**

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید



برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: نبي "پیاوړی"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com